هفته نامه

جهادهنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

په بادغیس کی ۱۵۰ تنه وسله وال ملیشه مجاهدینو ته تسلیم شول

بادغیس ، میډیا :
په پیښور کی دبادغیس ولایت نمایندګی میډیا ته رپوټ ورکړی چی دکابل رژیم ۱۵۰ تنه ملیشه دبادغیس ولایت دکشك ولسوالی پوری مربوط دکشك کهنه په علاقداری کی دمخکنی ارتباط له مخی دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی .
رپوټ زیاتوی چی نوموړو ملیشو له ځان سره دری عرادی اته سلنډره پوځی لاری دیوی زیاتی اندازی مهماتو او لوژستیکی موادو سره راوړی او مجاهدینو ته یی سپارلی دی .
دخبر ځای درپوټ له مخی دتسلیمیدو ددغی پیښی په سبا هم په نوموړی علاقداری کی دمجاهدینو دارتباطی کسانو ۱۲ میله درندی وسلی چی پکی دهشکه هاوان ، راکټ او توپ شامل دی دیوی اندازی مهماتو سره مجاهدینو ته تسلیم کړیدی .

دجلال اباد ، طورخم دلاری دخلاصون اوازه بی بنیاده ده

پیښور ، میډیا :
په پیښور کی دننګرهار ولایت قوماندانانو شوری یو غړی دشوری دفیصلی په اساس میډیا ته ددلوی په ۱٤ مه نیټه په یوه مرکه کی وویل چی په بعضی اخبارونو او راډیو ګانو کی دخپاره شوی دی خبر اوازه چی ګنی دجلال اباد طورخم لویه لاره مجاهدینو دترافیکو پرمخ خلاصه کړی ، دروغ او ددښمنانو پروپاګند دی ، او تراوسه پدی هکله کومه فیصله نده شوی .
نوموړی وویل چی دننګرهار ولایت دشوری مجاهدین به داسلامی حکومت تر ټینګښته پوری دکابل جلال اباد لویه لاره دتورخم دبندر په لور خلاصه نکړی دبلی خوا په طورخم کی دمجاهدینو عمومی قوماندان حاجی قاسم خان میډیا ته رپوټ ورکړی چی تر اوسه هیڅ یوه تجارتی لاری دکابل څخه طورخم ته نده رسیدلی او لاره دپخوا په شان تړلی ده .

دوهم کال ۲۲ مه پرله پسي (۷٤مه) ګڼه ، چهارشنبه د ۱۳۷۰ ددلوي ۲۳ مه ، د۱٤۱۲ هـ ق دشعبان المعظم ۹ مه د۱۹۹۲ میلادي کال دفبروري ۱۲ مه

مولوی صاحب نصرالله «منصور» طی مصاحبه باخبر نګار میډیا :

ظاهرشاه رابیګانګان بیش از ظرفیتش بزرګ ساخته اند

درصفحه ۸

دسینیګال یوه توریستی الوتکه راوغورځیده

داکار ،ددلوی ۲۲ مه :
دسینی ګال دهوایی کرسو مربوط یوه توریستی الوتکه چی ټول ۵۸ کسان عمله او توریستان پکی سواره وو راوغورځیده چی ۳۰ کسان پکی مړه او ۲۸ نور یی ټپیان شول.
خبر وایی دغه الوتکه چی یوی توریستی کمپنی له خواپه کرایه نیول شوی وه ، دسینیګال په جنوب کی دیوه تفریحی ساحل په لور روانه وه ، چی راوغورځیده.
خبر زیاتوی په دغه الوتکه کی دفرانسی اوبلجیم سیاحان سواره وو ، دالوتکی دراغورځیدو عوامل تراوسه ندی څرګند شوی.

بش دصدام حکومت دنسکورولو لپاره پټ هدایات ورکړي

مسکو ، دپاکستان ورځپاڼه:
دمنځني ختیځ دهیوادونو ځیني دیپلوماتانو داشك ښکاره کړي چي دامریکا جمهور رئیس جارج بش دامریکا په صدارتي انتخاباتو کي دخپلي کامیابي دحتمي ګرځولو لپاره دعراق دجمهور رئیس صدام حسین دنسکورولو لپاره فکر کوي.
دماسکو راډیو دیوه خبرله مخي ویل شوي چي جمهور رئیس جارج بش پدي هکله په یو لړ پټو هدایاتو باندي لاسلیك کړي ، چي پدي هدایاتو کي C.I.A ته حکم شوي چي باید دعراق حکومت له مخالفو ډلو سره تماس ونیسي اولدوي سره خپلي اړیکي ټینګي کړي .
دغه دیپلوماتانو ویلي دي چي که بش دصدام حسین حکومت په نسکورولو بریالي شي ، نو دامریکا په راتلونکو صدارتي انتخاباتو کي دهغه دبریالي توب امکان شته .

هند او امریکا خپلی پوځی اړیکی پراخی کړی

واشنګټن - ددلوی ۱۹مه
دامریکا متحده ایالاتو او دهند حکومت پخپل منځ کی دنظامی قوت دپراختیا او پیاوړتیا په اړه یوه ګډ توافق ته رسیدلی دی .
په یوه خپاره شوی خبر کی ویل شوی دی دغه پریکړه په هغی دوه ورځنی پوځی غونډه کی وشوه چی په تیره میاشت کی په نوی ډیلی کی جوړه شوی وه ، خبر ځای زیاتوی په همدی ارتباط به یوه بله غونډه په راروان کال کی په واشنګټن کی جوړیږی تر څو دغی پریکړی ته عملی جامه ورواغوندی . بلی خواته دواړو هیوادو سفارتی مامورینو دغه کار دواړو هیوادونو تر منځ یو پر ځای قدم او دوخت اهم ضرورت ګڼلی ، دیادولو وړده چی دغی پریکړی کولوته دهغه وخت څخه لار برابره شوه څه وخت چی دهند پوځ لوی درستیز دامریکا دمقاماتو او پوځی لوړ رتبه مامورینوسره لیدنه کتنه وکړه

روس ایران ته دوسلی په استولو کی کموالی راولی

مسکو ، ددلوی ۱۸ مه
دپخوانی شوروی اتحاد او اوسنیو مشترك المنافع هیوادونو دمسلح قواوو مشر «شپ شینکوف» ویلی دی چی روس به ایران ته دوسلی په لیږلو کی کموالی راولی .
نوموړی ویلی دی چی دغه پریکړه تر هغی وروسته وشوه چی په ایران باندی دلوړی پوځی تکنالوژی تر خرڅولو وروسته پر هغوی سخت انتقادونه وشول .
دامریکا ددفاعی چارو یوی ځانګی ویلی دی چی ایران هڅه درلوده چی دپخوانی شوروی له جمهوریتونو څخه جنګی الوتکی او ټانکونه خریداری کړی .

استاد برهان الدین ربانی طی یك کنفرانس مطبوعاتی :

لویه جرګه ابتکار سازمان ملل نه ، بلکه خواست رژیم مزدورنجیب است

درصفحه ۶

دکمونیزم دردناك اوعبرتناك شکست

په ۳ مخ

دالجزایر اسلامی ژغورنی دجبهی او حکومت تر مینځ نښتی

الجزایر ، د دلوی ۱۹مه
دالجزایر په مشرقی ښار بانیا کی په دریمه ورځ هم داسلامی ژغورنی جبهی او د پوځ تر منځ نښتې روانه وه داسلام ژغورنی جبهی دیوه ویاند له خولی پدغو نښتو کی تر اوسه پوری ۲۰ تنه وژل شوی دی په خبر کی ویل شوی په الجزایر کی دمظاهرو او مارشونو سلسله دیوه دینی عالم تر نیونی وروسته ګرندی شوه هلته دالجزایر دراډیو په یوه خبر کی ویل شوی چی دالجزایر واکمنو داسلامی ژغورنی جبهی په هغه احتجاجی مارش بندیز لګولی چی داسلامی ژغورنی جبهی داجرایه شورا لخوا دالجزایر دنا اهله واکمنو ناوړه چال چلند پر ضد اعلان کړای شوی وه .
بلی خواته دالجزایر واکمنانو دجمعی دورځی عامه رخصتی دشنبی ورځی ته تبدیل کړی تر څو پدی توګه دمسلمانانو دجمعی دورځی دلمانځه څخه وروسته دلویو لویو مارشونو او مظاهرو مخه ونیولای شی.

هند به هم دشوروی او یوګوسلاویا په څیر ټوټی ټوټی شی

دالمان غږ راډیو یو تحقیقاتي رپوټ :

په ۸ مخ کي

سرمقاله

فاتح ولس خو مظلوم ولس !

دوه کاله وړاندی ددلوی په ۲٦ مه نیټه دروسی ماتی خوړلی لښکر قوماندان دامو په پله دافغانستان خواته مخ راواړاوه اوبیایی په ډیر حسرت وویل : بیا به موږ هیڅ کله هم دی لوری ته رانه شو.
دروسی پوځونو دقوماندان په همدی یوه خبره کی دافغان او روس تر منځ ددیارلس کلنی خونړی جګړی دداستان داوج ټکی ژ دهغه په همدی یوه جمله کی دافغانی غازیانو شهامت ، شجاعت غیرت او دروسی پوځونو دماتی رسوایی ، اودخپلی طاغوتی امپراطوری دزوال اعلان نغښتی ؤ ، چی په نړدی راتلونکی کی عملاً ټولو نړیوالو ته براﻻ شو.
ددلوی په ۲٦ مه دروسی پوځونو دماتی او له افغانستان څخه دبشپړ وتلو په نتیجه کی دافغان قوم دیوه خواخوږی او مومن ملاتړ هغی خبری هم یو ځل بیا تحقق وموند چی دافغانانو دشجاعت او ایمان په باب یی په یوه رسمی مجلس کی کړی وه.

په ۷ مخ کي

له لویدیزی نړی څخه دیلتسن غوښتنه :

که زمونږ سره مرسته ونکړی نو کمونستان به یوځل بیا راپورته شی

په ۸ مخ کي

په الجزایر کی اضطراری حالت اعلان شو

داسلامی ژغورنی جبهی په فعالیتونو باندی بندیز

په ۸ مخ کي

دمسلمانانو په بیداري ، وحدت او جهاد کي دامت ازادي اوعزت نغښتي دي

الحاج حقاني

جهادهنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

صلح ... ولی از کدام طریق ؟!

احمدضیا رحیمزي

تقریبا دونیم ماه بعد ملت مظلوم وستمدیده ما چهاردهمین سالروز کودتا منحوص (۷ثور) رادر کشور ، تقبیح خواهند کرد ، وبه عبارت دیگر دونیم ماه بعد ، چهارده سال مسلسل جنگ وخونریزی رادر کشور خویش پشت سرمی گذاریم.

در طول این مدت طولانی قربانی عظیمی را که ملت غیور و مسلمان ما متحمل گردیده ، از نظر هیچ فردی جهان پوشیده نیست .

رنج ها ، الام و مصایبی راکه ملت ما در طول این مدت چه در جریان مبارزه علیه رژیم مزدور وبی اراده کابل و چه در جریان دفع تجاوز خاینانه قشون وحشی ابر قدرت از جهان رفته روسی ، متحمل گردیده اند دال بر شهامت ، شجاعت و روحیه فداکاری اسلامی این ملت قهرمان است و درج اوراق زرین تاریخ مبارزه ملت های مظلوم جهان خواهد بود .

تحمل این همه بد بختی های جنگ وخونریزی ومبارزه با ابر قدرتیکه از هر حیث ونگاه ده برابر بزرگتراز کشور ما بود و بالاخره بزانو در اوردن ان و پاش پاش نمودن بت منحوس کمونیزم در جهان وبه تجزیه در اوردن ابر قدرتی که روز گاری یکه تاز میدان سیاست جهان بود ، از ان جمله افتخاراتیست که ملت قهرمان ما توانست در طول این مدت برای خود کسب کند .

اما نباید فراموش کرد که جنگ مسلسل ۱٤ ساله انهم بابزرگترین قدرت مادی جهان اگر افتخاراتی در بردارد ، رنجها و مصایبی هم از پشت دارد .

روز گاری خیلی قبل از امروز سید جمال الدین افغانی فیلسوف ودانشمند شهیر جهان و داعی بزرگ اسلام طی بیانیه دریکی از کشور های اسیایی کفته بود « ملتی که مرگ را در راه ازادی خویش با لب های متبسم استقبال نکند زنده نخواهد ماند !»

> **سید جمال الدین افغاني روزکاري خیلي قبل از امروز گفته بود :**
> **ملتي که مرگ رادر راه ازادي بالب هاي متبسم استقبال نکند زنده نخواهد بود**

و امروز درست ٦٠ سال بعد از این کفتار علامه سید جمال الدین افغانی ملت مجاهد وغیور ، این امتحان عظیم راپشت سر گذاشت ، وبا تحمل قربانی بی مثال در راه ازادی کشور و حفظ اصالت دینی خویش ، درس فداکاری به ملت های مظلوم ودربند استعمار اموخت .

و تا اکنون هم که تقریبا چهاردمین سال جنگ وخونریزی درکشور خویش راخاتمه می دهیم ، اتش سوزنده ان اخرین بقایا از ویرانه های کشورما رامی سوزاند ، وملت ما هنوز هم درگری از خون واتش جنگ تحمیلی بیگانگان شنامی کند ولی اکنون که در اخرین ثلث از چهاردهمین سال جنك قرار داریم در حالیکه باید ملت ما با بدست اوردن اخرین نتایج انقلاب چهارده ساله بر بقایا و خاکستر های از ویرانه های این مبارزه طولانی عمارت سر نوشت اینده خویش را بدست خویش تعمیر نماید یکبار دیگر زور گویان جهان تلاش دارند تا دست محکمی از زور وجبر بر دهان پر خون این ملت بیچاره بنهند و نگذارند ، مطابق میل وخواسته خویش وبه اساس نتیجه منطقی جهاد و مبارزه عظیم اسلامی خویش چنین تعمیری را بنا نهند .

گرچه تلاشهای دیپلوماتیك بنام حل وفصل سیاسی قضیه افغانستان جدیدا اغاز یافته واز مدت های طولانیست که نیروهای جهانی « زور » و« زر » در پی حل سیاسی !! این قضیه اند ، ولی جدیت وسرعت این گونه تلاشها وهمنواشدن عده از دوستان محکم و دیرین جهاد اسلامی کشور ما با ان دراین اواخر از عمق هرچه بیشتر این دسیسه بین المللی حکایت می کند .

استکبار جهانی و در راس ان امریکا که در هیچ گوشه از جهان نمی تواند شاهد پیروزی اسلام و نهضت های اسلامی باشد وانرا منافی اهداف نظم نوین جهانی !! خویش می داند ، تلاش دارد تا با عنوان کردن چهره های اجیر وغلام تحت عنوان خاتمه دادن به قضیه خونین ۱٤ ساله افغانستان نظام مطابق میل وخواسته هایش را بر ملت مسلمان ما تحمیل نموده .

> **امر مسلم اینست که واقعا ملت مابه صلح نیاز دارد ولي این صلح باید چگونه واز کدام طریق درکشور ما حاکم گردد؟**

وبدین گونه از پیروزی حتمی مبارزان راه خدا (ج) جلوگیری بعمل اورد .

نکته اساسی دراین همه تلاشها اینست که استکبار اینبار از راه صلح پیش می اید و جالب هم اینکه ادعا دارند صلح درافغانستان تنها با رویکار امدن ظاهرشاه یا امثال وی می تواند اعاده گردد .

طرح تدویر کنفرانس چند جانبه بن از جانب ولی برانت صدراعظم اسبق المان غرب و اکنون پیشنهاد تدویر جرگه قومی وملی ۱۵۰ نفری افغانها در جینوا یا انقره به شمول نمایندگان رژیم کابل مجاهدین ونمایندگان ظاهر شاه از جانب بطروس غالی سر منشی جدید سازمان ملل و اعلام تائید پاکستان ازاین طرح در حقیقت حلقه های از همین توطیه هاست .

امر مسلم اینست که واقعا ملت ستم کشیده افغان به صلح نیاز دارد ، ولی سوال اینجاست این صلح باید چگونه واز کدام طریق در کشور ما حاکم گردد؟

در شرایط فعلی که هنوز عاملین جنگ خانمانسوز ۱٤ ساله با کمك مستقیم وغیر مستقیم بیگانگان بر نظام مرکزی کشور ما حاکم اند ، ودرحالیکه هنوز هم همه روزه تعداد بی شماری از فرزندان بی گناه این ملت در کنج و اکناف کشور توسط اجیران روسی به قتل می رسند ، ایا ممکن است در کشور جنگ زده ما صلح استقرار یابد ؟

ملت ما از همه اولتر خواهان صلح است ، چه در نتیجه این جنگ فرزندان این ملت قربانی می دهند ، خانه و کاشانه اهالی این کشور به ویرانه مبدل می گردد ، دارونداز ملت ماست که در اتش جنگ به خاکستر مبدل می گردد و بالاخره این همه یتیم ، بیوه ، معیوب ، مهاجر و ... افرادی از ملت ما اند که در نتیجه جنگ بار سنگین ازمصائب ومشکلات رابردوش نهاده و در اتش ان می سوزند !واینها اولتر از همه به صلح نیاز دارند .

ولی ایا طرح های راکه ولی برانت بطروس غالی ، بینن سیوان و امثال انها جهت استقرار صلح پیشنهاد می کنند می تواند بر زخم های داغ این افراد ملت ما مرهم

« صفحه ۷ »

وضعیت سلاح ذروی درحالت کنونی جهان

عبدالوکیل

کشف بمب اتومی وفروریختن ان بالای جزایر هیروشیما وناگساکی جاپان درسال ۱۹٤٥ م از طرف ایالات متحده امریکا وبعداً ازمایش بمب اتومی در سال ۱۹٤۹ م از سوی روسها زنگ خطر جدیدی رابرای بشریت به صدا در اورد وبه تعقیب ان بریتانیا ، فرانسه و چین نیز بمب های اتومی را تولید وازمایش نمودند ومسابقه سلاح های اتومی در پهلوی سلاح های غیر اتومی شدت کسب نمود که ایالات متحده امریکا و روس ها مانند سلاح های غیر اتومی ابر قدرت ها و حریف های اساسی سلاح های اتومی نیز در جهان ظهور نمودند وصلح جهانی رابه سویه به خطر مواجه گردانیدند که در هر ثانیه امکان جنگ ذروی بین روس وامریکا ونابودی بشریت در کره زمین وجود داشت .

ایالات متحده امریکا باجابجا کردن سلاح های مذکور در جاپان کوریای جنوبی ، ترکیه ، یونان ، ایتالیا ، انگلستان ، المان غرب وایجاد خطری رابه امپراطوری روس ایجاد کرد وخصوصاً نصب راکت های اتومی پرشنگ ۲ و کریلاتی در اروپایی غربی از جمله در المان غرب وپروگرام چتر فضایی موسوم به جنگ ستاره گان از سوی ایالات متحده امریکا در دوره های ریاست جمهوری ریگن، امپراطوری کمونستی روسیه رابه لرزه در اورد اما روسها در مقابل ان راکت های ذروی اس ، اس ۲۰ رادر کشورهای اروپایی شرقی از جمله المان شرق و چکوسلواکیا نصب نمودند واعلان نمودند که راکت های ذروی روس ها که در تحت البحری های خویش نصب نموده است ودر نزدیك ایالات متحده امریکا موقعیت گرفته، میتواند در لحظاتیکه راکت های اتومی ایالات متحده امریکا خاك روسیه ضربه زند جواب متقابل رابدهد ولي باهمهء این بغرنجی هاوشرایط حساس ونازك نظامی از آغازجنگ ذروی خود داری گردید که در این رابطه عده از سیاست مداران ونظامیون به این نظر بودند که یکی از عواملیکه تا هنوز از جنگ جهانی سوم جلو گیری گردید ، موجودیت سلاح اتومی بود زیرا که در ان زمان اکثریت صاحب نظران سیاسی ونظامی به این عقیده بودند که جنگ ذروی بین روس وامریکا برنده نخواهد داشت،به هر صورت در حالت کنونی که امپراطوری روسیه نابود گردیده ، دوران جدیدی در جهان اغاز یافت وایالات متحده امریکا منحیث یگانه ابر قدرت جهانی دست به نظم جدید جهانی زد که یکی از پرابلم های امریکا دراین رابطه نابودی و تحت کنترول در اوردن سلاح های ذروی در سراسر جهان میباشد.

بعد از تجزیه امپراطوری روسیه از جمله ۱٥ جمهوری صرف چهار جمهوری که عبارت از روسیه ، روسیه سفید ، اوکراین و قزقستان میباشد ، دارای سلاح های اتومی هستند . ایالات متحده امریکا ویاران غربی آن باداشتن امکانات خویش توانستند روس ها را وادار نمایند تا آنعده از سلاح های اتومی ایرا که از جانب روس ها به

« صفحه ٦ »

دکمونیزم دردناك اوعبرتناك انجام!!

ژباړه او لنډیز : سید شهریار

دشوروی اتحاد دښکیلاکی امپراطوری له رنګینوڅخه وروسته دهمدی موضوع په رابطه «چی څنګه دغه حادثه !!!منځ ته راغله» رنګارنګ بحثونه او قسماقسم خیالات او تاثرات څرګند شول.

دبحث او دخپلو خیالاتو او تاثراتو دڅرګندولو حق هر چاته ورکړل شوی دی خو له بده مرغه همدغه حق بیا په پخوانی شوروی اتحادکی له انسانانو څخه تر وړل شوی ؤ.

دخیالاتو دڅرګندولو مقصد هم دانه دی چی څوك شپی ته ورځ او رڼاورځی ته شپه ووایی او یا دحقیقت په رابرسیره کیدو سره ووایی چی: دا انصاف نه تعصب دی!

زموږ مقصد دلته دهغو تش په نامه انقلابیانو او دکمونیزم دناولی نظریی دغمخوارانو څخه دی چی دحقیقت دسپینی رڼا دتسلیمولو پر ځای دباطلی نظریی په توره تروږمی کی غوپی وهی، سعدی صاحب په دی باب څه ښه ویلی:

گرنه بیند بروز شپره چشم
چشمه افتاب راچه گناه!

اصلی خبره داده چی په اسلامی ټولنو کی هم ځنی دشوروی اتحاد خواخوږو ته دکمونیزم په ماته سره ډیر درد او خپګان رسیدلی ځکه دوی د همدی نظریی په تهداب سره دخپلو خیالاتو او تصوراتو په دنیا کی یو لویه دنګه او پراخه مانی ودانه کړی وه چی حیثیت یی دسمندر دطوفانی څپوپه مخکی دشګو دبند پرته بل هیڅ نه ؤ.

دشوروی دله منځه تلو څخه وروسته دغو عناصرو ته دمنځنی اسیاداسلامی هیوادونو دبیا راڅرګندیدلو حماسه دزهرو دګوټ څخه هم کمه نه ده.

دکمونیزم دردناك او عبرتناك انجام کله دکمونیزم دغه خواخوږی دشوروی دنا اهله واکمنانو غلطه پالیسی ګڼی او کله یی هم دامریکایانو او غربیانو سازش بولی:

خو کله چی دنړی پر نقشه دمنځنی اسیاد اسلامی هیوادونو راڅرګندیدل ووینی نو زړه ته په دی اطمینان ورکوی چی دغه جمهوریتونه دمسکو سره دخپلو اړیکو شلیدلو ته چمتو نه دی ځکه دوی دروسیی او اوکراین په نسبت ډیر ضعیف او وروسته پاتی هیوادونه دی خامخا به دژوند په هر ډګر کی روسی او اوکراین ته اړاو محتاج وی او کله کله خوورته په دغوجمهوریتونو کی نژادی او لسانی اخ ودب هم درناڅرك بریښی!!

دمنځني اسيا دخلکو اقتصادي ستونزي اودروسيي او اوکراين اونورو عيسوي پرمخ تللو هيوادو پوځي قوت دغه حقيقت په ډاګه کوي چي شوروي اتحاد واقعي اتحاد نه بلکه په زور او ظلم جوړه شوي ښکيلاکي امپراطوري وه

په اوس وخت کی زموږ مخی ته دهمدغو غمخوارانو دجملی څخه دیوه تن رایه چی دشوروی اتحاد ماته او دټوټه کیدو علت په باب یی وړاندی کوی دکمونیزم سره یو په ډاګه همدردانه ثبوت دی. نوموړی دپاکستان دهغی رسمی هئیت په ډله کی شامل و چی اوس اوس یی دمنځنی اسیا داسلامی جمهوریتونو څخه لیدنه کتنه کړی نوموړی په اسلام اباد کی دپوهانو او روښنفکرانو یوه جوړشوی سیمنار ته پخپله وینا کی وویل: چی دشوروی اتحاد دماتی مسؤل کمونیزم نه بلکه ددغه هیواددحکمرانانو دغلطو او ناقصو پالیسیو راپیداکړی اقتصادی بحران دی چی دشوروی دټوټه ټوټه کیدو سبب وګرځید ده زیاته کړه چی د شوروی خلك دټیر کمونستی نظام مخالف نه دی بلکه دستالین او برژنف مخالف دی سیمنار ته ده داهم وویل چی ددغو نویو ازادوشویو اسلامی هیوادونو د پایښت دپاره یواځی او یواځی په زراعت پوری مربوط دی حال داچی دژوند په نورو سائنسی او تکنیکی ډګرونو کی روسانو ته اړاومحتاج دی نو جوته ده چی په راتلونکی کی به هم دروسی تر اغیزو او تاثیرلاندی وی ده ددغو خپلو خبرولپاره دادلیل راوړ چی دپخوانی شوروی په پوځ کی ۹۵ فیصده برخه منصبداران او ۶۰ فیصده عسکر دروسانو څخه دی.

ددغه صاحب نظر او دوینا مثال موږ ددی لپاره وړاندی کړ چی اخر ولی تر اوسه پوری ځنی خلك دکمونیزم په صداقت ټینګار کوی دجنایاتو او فحشاوو څخه یی سترګی پټوی او همغه زړی ببولالی غږوی.

ځکه دکمونیزم په صداقت ټینګار خبره اوس دومره بی ارزښته او بی معنیٰ ده چی ویونکی یی هم قابل دزړه سوی او ترحم دی

تقریباً ۸۰کاله دنیمی نړۍ ټول وسایل دکمونیزم دبرلاسی او پایښت لپاره په کار واچول شول دشوروی اتحاد دشپاړسو هیوادونو مشرقی اروپا، افریقا، اسیا او دلاطینی امریکاڅخه پیرو هیوادونو بی شمیره کوندونو مؤسسو او پوهانو چی دنیمی نړی څخه هم زیاته برخه تشکیلوی دکمونیزم دپایښت او کامیابی لپاره لاس او پښی ووهلی «نظامی قوت، داتومی وسلو انبارونه، اقتصادی سانیسی او تکنیکی مرستی په مظلو مو پرګنو ظلم زور او زیاتی د اشخاصو څخه دازادی داظهار حق تر وړل په غیر کمونستی هیوادو فشار راوړل او پروپاګند کول او ....» خو ددی ټولو کوښښونو او ناوړه هلوځلو سره سره بیا هم دکمونیزم پایښت عملی نکړای شو.

په مشرقی اروپا کی دیوه سره تربل سره پوری هر کمونستی هیواددکمونیزم دناولو پنجو څخه ځان وژغوره دبرلین دیوال داسی ونړیدلکه ددریاب په مخکی دکوچنیو په لاسو جوړ شوی دشګوبند.

مشرقی اروپا کی لادکمونیزم په تابوت ویر کیده چی په شوروی اتحاد کی هم هنګامی پیل شوی او دکریملین دوحشته ډکه مانی یی ونړوله.

اوس داخبره کول چی په دی کی ګناه دکمونیزم نه داشخاصواودراپیداکړی اقتصادی بحران وه دټوکو سره برابره ده دغه خلك یا ځان غولوی او یانور غولول غواړی. ځکه دغه اقتصادی بحران غلطی پالیسی وحشی نظامونه ستالین او برژنف دغه ټول دهمدغه کمونیزم زیږنده وه چی دنړی دبی وسه پرګنو وینی یی وڅښلی

زموږ مقصد دلته دهغو تش په نامه انقلابیونو او دکمونیزم دناولي نظر يي دغمخوارانو څخه دي چي دحقيقت دسپيني رڼا دمنلو پرځاي دباطلي نظري په توره تر وږمي کي غوپي وهي

اودیوی اوږدی مودی لپاره یی محکوم وساتل.

او تر کومه پوری چی دمنځنی اسیا دخلکو داقتصادی ستونزو او دروسی او اوکراین او یا دنورو عیسیوی پرمخ تللیو هیوادو دپوځی قوت خبره ده نو دادغه حقیقت یو په ډاګه ثبوت دی چی شوروی اتحادیو واقعی اتحادنه بلکه په ظلم زور او زیاتی سره یوه جوړه شوی ښکیلاکی او استعماری امپراتوری وه چی پکی ځینو دشمیر اشخاصود

دنبوی لمر زرینی وړانګی

ژباړه او لنډیز : رحیمزی (۵)

ددی تکتیك او ستراتیژی څخه خالد (رض) دوه لوی هدفه درلودل لومړی داچی دسیند هغی غاړی ته دفارس سیمه له نژدی څخه کنترول او تر مراقبت لاندی ونیسی، او بل داچی دفارس داصلی لښکرو دجنګی توان او استعداد څخه ځان خبر کړی.

خالد (رض) له دلاجه څخه تر بیرته راتګ وروسته ددستی تر څنګ خپل لښکر ځای پر ځای کړ، دلته دبنو تمیم دقبیلی په اسونو سوریو لښکر دقعقاع بن عمرو تر قوماندی لاندی داسلامی لښکر سره یو ځای شو خالد (رض) تردی وروسته پرمختګ وکړ او دفرات دسیند په غاړه لیس سیمی ته ورسید، پدی ځای کی هم دفارسی لښکردامنیتی ګروپونو یوه لویه برخه عیسوی مذهبه عربان وو، دلښکرقومانده دیوه فارسی جنرال «جابان» په لاس کی وه او دلته دلومړی ځل لپاره سخته جګړه ونښته، تر شدیدی جګړی وروسته مسلمانانو بری تر لاسه کړ، او دښمن تیښته وکړه، دخالد (رض) دامر مطابق ټول تښتیدونکی پوځیان دمسلمانانو له خوا ووژل شول، ولی داسلام دلومړی خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) دحکم مطابق چی دشام او عراق لوری ته یی دلښکرو داستولو په وخت کی ورکړی وو، داسلامی لښکرله لوری له غیر پوځی کسانو او بزګرو سره هیڅ غرض ونه نیول شو مسلمانانود امیر المومنین پدغه نصیحت باندی تل عمل کولو هر ښار او په هری سیمی ته په ننوتلوسره یی دغیر نظامی کسانو ښځو او ماشومانو سره هیڅ کله هم غرض نه کولو.

ددی جګړی په ترڅ کی دفارسی لښکردومره افراد ووژل شول چی دعربو تاریخ لیکونکی هغی ته د«وینو دسیند» جګړه وایی.

ددی سخت اقدام اثر ډیر ښه وو، پدی ټوله سیمه کی دمسلمانانو رعب او هیبت خپورشو، کله چی اسلامی لښکر له اولیس څخه پر مختګ وکړ، نو په مخه کی پروت د«امغشیا» ښار له اوسیدونکو څخه تش شوی وو، دمقر، فرات او بادقلی په سیمو کی فارسیانو بیا مزاحمت وکړ، ولی ډیر ژر لاره صفاشوه، او تر هغی وروسته خالد (رض) او دهغه ملګری دفارسی سلطنت له مرکز مداین ښار څخه تقریباً سل میله لری دحیری ښار پر دروازه ولاړوو. دغه ښار هم په فارسی امپراطوری پوری تړلی وو، دمسلمانانو لښکر تر لږ ځند وروسته دغه ښار هم فتحه کړ، په لومړی سر کی ددی ښار اوسیدونکو لږ او ډیر مقاومت وکړ ولی تر لنډی جګړی وروسته دهغوی مقاومت مات شو او دجزیی په ورکولو سره یی سوله وکړه، ددی ښار تر فتحی وروسته خالد (رض) دفتحه شوی سیمی دسنبالولو او کنترول انتظام وکړ، هر ښار ته یی یو پوځی حاکم وټاکلو او دښاله لوری نه دامنیت دټینګست لپاره یی بی شمیره پوځی پوستی او مرکزونه په بیلا بیلو سیمو کی جوړ کړل چی ددی مرکزونو قومانده یی مجربو او تکړه پوځی افسرانو ته وسپارله.

دفارس په اطرافو کی تریولږ فتوحاتو وروسته خالد (رض) ددی لویی امپراطوری دمرکز لوری ته دپرمختګ په حال کی وو چی دمدینی منوری څخه دحضرت ابوبکر صدیق(رض) یو فرمان هغه ته ورسید پدی فرمان کی خالد (رض) ته حکم شوی ووچی مثنی بن حارثه (رض) باید په خیره کی پریښودل شی اودی خپله باید شام ته دیرموك مسلمانانو ته ځان ورسوی ځکه هغوی په مشکلاتو کی راګیر شوی په فرمان کی ویل شوی وو چی حضرت ابو عبیده بن جراح او دهغه تر قوماندی لاندی لښکر به هم دخالد (رض) ترمشری لاندی وی.

دشام په غزاګانو کی دخالد (رض) پوځی استعداد نور هم

«۶» مخ کی

په غـم غمجـن انسـانيـت دپـاره
مـوږه ښـادي غـوارو راحـت غـوارو
مـوږ ددنيـا پـه هـره ځـمكـه بـاندي
ښـكـلـي نـظـام دشـريـعـت غـوارو

ننګيالي او خاطري يي

څـومـره بـخـتـور سوداګردی !
څومره ستره ګټه یی کړی ده ؟!
څـوك یـی اټكل كولی شی ؟!
نه ! هیڅوك هم ددی ګټی اوددی سودا اټكل نه شی كولی یونیم دوه سیره غوښی او هډوكی یی وركړی دی !
یوه پښه یی بایللی ده ، خو دڅه په مقابل كی ! دهمت او غیرت ستر ویاړ یی خپل كړی دی .
دخدای (ج) پردین دننګی او ملاتړ پر لاره یی قربانی وركړیده دستر رب (ج) په رضا یی وینی تویی شوی دی چی یقیناً بی عوضه او بی اجره نه پاتی كیږی .
په دنیایی یو ستر زبر ځواك شرمولی ، یوه ستره امپراطوری یی نړولی ، او داسلامی امت دجهاد په تاریخ كی یی نوی نوی حماسی او كیسی ور زیاتی كړی دی او انشاالله تعالی په اخرت كی به دمحشر په میدان خپله یوه پښه په اوږه دخدای (ج) درحمت سیوری ته ولاړ وی .
نو ایا بختور سوداګر او غوره تجارت نه دی ؟
ویی پیژنی :احمد ولی دمحمد یونس زوی دپروان ولایت اوسیدونكی او دشهید سلیمان شاه دزرهدار غوندمجاهد ، چی دګردیز دغوګیری په پوستو دعملیاتو نه وروسته ددښمن دبمباری په ترڅ كی دبم دچړی په اثر یی یوه پښه ټپی شوی .

قطعي

عاصم ثمرخيلي

تاچـي كومي كړني وكړلي مغروره
ترحسابه دي مور نه شي په تابوره
دادهر افغان په مغز درته ثبت دي
ستاپه مخ كي به يي كيږدي له ضروره

*** ***

موږ هغه افغانان يو چي ازاد مو ژوندن كړيدي
اوږده تاريخ ته دعزت اودغيرت موتړون كړيدي
توره چي يي ويستلي هميشه ددښمن دماتيدو پسي
مونږه يي هم لمسي يوخو دي دهر بدلون كړي دي

صاف شه خړ اسمانه

محمد داود بهار

صاف شه خړ اسمانه شني لمني دي ښكاره كه
نورپه موږ خوارانو درحمت وږمه خوره كه
صاف شه خړ اسمانه

صاف شه خړ اسمانه نور نو ليري تورتمونه كه
صافه فضا جوړه كه خوشحاله زموږ زړونه كه
ته خپلي ښكلا ته داجهان په ننداره كه
نورپه موږخوارانو درحمت وږمه خوره كه
صاف شه خړاسمانه

صاف شه خړ اسمانه دالمني دي روښانه كه
ورك دا طوفانونه نورلدي فاني جهانه كه
جورمي له هيواده يو ځل بيا ښه منظره كه
نورپه موږ خوارانو درحمت وږمه خوره كه
صاف شه خړ اسمانه

صاف شه خړ اسمانه چي سپوږمي دركي خندا وكړي
ستاپاكه لمنه كي داټول ستوري رڼا وكړي
اي دټول جهان مالكه داسوال مي پوره كه
نور په موږخوارانو درحمت وږمه خوره كه
صاف شه خړاسمانه

صاف شه خړاسمانه چي دتاپه لوري پام وكړم
ستاپاكه فضا كي زه يو څو ورځي ارام وكړم
نوره مي خوږه راته دژوند هره لحظه كه
نورپه موږ خوارانو درحمت وږمه خوره كه
صاف شه خړاسمانه

دعـــا

ملا اسد الله حنيفي

لـويه خـدايه ! وس او تـــوان دعبــادت را
ښــه خــويـونــه ښـه عـمل او ښه خصلت را
چي شيـــبه شـيبه مـــي تـيره په طاعت شي
داســـي عمـــر جـاويـــدان پـــه خپل قدرت را
الـهـــي رابـانـــــدي رحــم فــضـــل وكــړه
ستـــا پـــه ليــكـــه راتـــه ځـغـلند حركت را
تـــه دخـــپل رحــم او فـــضـــل پـــه څپو كي
لـويـــه خـدايـــه لـــوي ســـفـــر داخــرت را
لـــه ګنـــاه ځـــني مـــي پـــاك لكه ماشوم كړه
زما خـــدايـــه ! خپـــل ديدار اوخپل جنت را
خپـــل حضـور ته سرنګون ما (حنيفي) كړه
لـــويـــه خـــدايه ! تـــولـــو بـــدو نه نفرت را

دنور څلی

ابو موسی اشعری (رض) ته دحضرت عمر فاروق (رض) لیك

مولانا عبدالمجید

۱– قضاء یوه كلكه او ضروری فریضه مسلمه او منل شوی اسلامی شرعی لاره ده .
۲– كوم وخت چی تاته كومه دعوی دفیصلی لپاره راشی . اول دموضوع په اړه دټولو خواو په دلائلو ځان پوه كړه او كله چی حق راڅرګند شی نو نافذیی كړه ، ځكه چی سلواری په ژبه دحق له ویلو څخه كومه جوته فایده نه اخستله كیږی تر څو چی هغه په عمل كی پلی نكړای شی .
۳– پخپله غونډه كی دكښیناستو ، دنیغ په نیغه خبروكولو ، او دعدالت او انصاف له مخی په پریكړو كولو كسی ، دټولو خلكو سره یو ډول سلوك كوه ترڅو چی بی وزله كمزوری وګړی ستا دانصاف څخه نا امیده نشی ، او قوی او بارسوخه وګړی له تا څخه دمراعات او ملګرتیا اوپلوی كولو ارزو ونكړی .
٤– دمدعی مسولیت دی چی باید ددعوی داثبات لپاره ثبوت وړاندی كړی .
او مدعی علیه ته باید سوګند وركړل شی یا په بل عبارت په مدعی باندی ددعوی دثبوت لپاره شاهدان دی او دمدعی علیه لپاره سوګند .
٥–دمسلمانانو ترمینځ سوله كول روادی ، پرته دهغی سولی نه چی څوك حلال ته حرام او حرام تـه حلال وایی ، یعنی چی دهغی په واسطه دشریعت دكوم حكم څخه سر غړونه وشی .
٦–په هیڅ یوه معامله كی باید دپرون پریكړه نن دحق په لار درا او ستو لپاره كوم خنډ جوړ نشی
كله چی دپوره تحقیق او څیړنی څخه وروسته سمی پریكړی كولو توفیق درپه برخه شی ، له دی سبب چی حق ازلی دی او دهغه په لور راګرځیده په غلطی باند ی دټینګار څخه غوره دی .
۷–په هغوكارونو كی دډیر غور او فكر څخه كاراخله دكومو دحل لار چی ته په قران او سنتو كی ونه موندلی شی ، او هغه ستاپه زړه كی ځوړنده وی ، مثالونه او بیلګی یی په ذهن كی كښینوه او هغه داسی حل اختیار كړه كوم چی ستا دڅیړنی مطابق وی .
دباری تعالی (ج) ډیر خوښ او حق ته نژدی وی .
۸– مدعی ته دیوی ټاكلی مودی پوری وخت وركړه تر څو هغه ددعوی داثبات لپاره شاهدان پیداكړی ، كه په ټاكلی وخت یی ګواهـان راوړل نـو دهـغـه حـق هـغـه تـه ورسپاره ، او كه یی ګواهان راحاضر نكړای شول نو بیایی په خلاف پریكړه وكړه .
ددی ډول تاكتیك څخه په كار اخستلو به له یوه پلوه شكونه او شبهات لیری شی او له بله پلو به مدعی ته داعتراض چانس په لاس ورنشی .
۹– ټول مسلمانان وګړی یو په بل باندی په ګواهی وركولو كی عادل دی اما هغه څوك دګواهی وركولوجوګه نه دی چی هغه باندی كله كوم حدجاری شوی وی ددروغو په شاهدی مشهور وی ، او یا وریاندی داسی شك كیدای شی چی له مدعی سره دوستانه اړیكو په سبب ددرواغو شاهدی وركوی .
خدای(ج) به ستاسو دپټو خبرو پریكړه پخپله كوی ، او الله (ج) دګواهانو په واسطه ستاسو شخړی پای ته رسوی .
۱۰–دقضا په غونډه كی دشور ، زوږ ، بی نظمی ، دوګړو دخفه كولو او هغوی ته دضرررسولو او دډلو تر مینځه دتاو او تر یخو څخه ډډه وكړه په دی ځایونو كی پروردګار (ج) دحق دقایمولو په واسطه بدله او ثواب وركوی ، اودهغه یادونه په خیر سره كوی ، نوخدای (ج) دده دمعاملو دمعاملی دحل لپاره نیك وی دحل لپاره كافی دی هر چا چی ځان دخلكو تر مینځ په یو ه صف باندی راوړاندی كړی وی . په داسی حال كی چی هغه صفت په هغه كی وجود ونلری .
خدای (ج) به هغه ټولنی دوګړو په مخكی بدنامه كړی .

وروستي بدلونونه او د خپل منځي اختلافاتو بدمرغه ستونزه

سید شهریار

تقریباً دری کاله وړاندی کله چی ددلوی په ۲۶مه نیټه دافغانستان څخه دروسی یرغلگرولښکروروستی عسکر دمیړنیو اواتلو افغانانو دځواکمن مقاومت اوبی دریغه قربانیو په نتیجه کی داموله دریاب څخه واوښتو نوله همغی ورځی راهیسی دجهاد دښمنانو دجهادی ثمری دتر ووړلو لپاره خپلو توطیو دسیسو او

دمجاهدینو په منځ کی دخپل منځی اختلافاتو اودبی ځایه تربگنی سپرغیو ته لمن وهل پیل کړل او په دی لړه کی شول چی باید هرڅنګه وی دملحد اولاس کینولی رژیم ځنکندن وراووږد کړی اوپه پای کی یو وار بیا دافغانستان په بی گناه مسلمانانو چی دخپل سوچه اوسپیځلی مرام لپاره یی بی شمیره قربانی ورکړی او لا ورکوی یی ځینی داسی

په غوښو داوړ او بارونو مقابلې ته سینه سپر کړی اوبیا دهمدغه اوسپنی اوغوښی په مقابله کی دنړی لوی زبر ځواك تیښتی ته مجبور او بالاخره یی لویه امپراطوری له منځه یوسی نو ددغی ملت لپاره به دهغه لاس کینولی رژیم حیثیت څه وی چی دبادار په نظامی اواقتصادی مرستو پایی اوپه اشاروی نڅا کوی.

په ډاګه ده چی سقوط اوله منځه تلل یی دیوڅو شیبو خبره ده خو متاسفانه داسی ونه شول هرچاچی یی دنسکوریدو فکر کاوه نن هم زموږ په بی گناه ولس لا همغسی تحمیل شوی اوتپل شوی دی .

درژیم دپایښت عامل که له یوی خوا دروسانو بی دریغه نظامی او اقتصادی مرستی اودمجاهدینو پر ضد دکفری نړیوالو ځواکونو شیطانی تبلیغات پروپاګندونه اودسیسی دی نوله بله پلوه دمجاهدینو خپل منځنی اختلافاتو اودیوه واحد دریځ دنشتوالی ستونزی هم پکی مهم رول لوبولی دی ځکه که چیری مجاهدینو دروسانو له

نه شو چی دتیرو ترخو تجربو څخه عبرت واخلو اوداینده لپاره دیوه دریځ اویوه خوله کیدو تصمیم ونیسو.

که ووایو چی ننی گردجنه فضا زموږ او زموږ دسپیڅلی جهاد لپاره یوه حساسه او نازکه مرحله ده نو غلطه به نه وی ځکه نن زموږ په مقابل کی او زموږ دجهاد دکامیابی دمخنیوی لپاره یو سنگر نیولی شوی او تود شوی دی

ترڅو نړیوال ځواکونه خپلی هغی شیطانی طرحی او پلانونه چی زموږ دبرمیال جهاد دبی شمیره قربانیودله منځه وړلولپاره یی رامخی ته کړی اوپلی کړی دی زموږ پر قهرمان ولس وروتپی .

اوس هم خدای مکړه که موږ په دغه حساسه مرحله کی دتیرو ترخو تجربو او اوسنیو سترو بدلونونو څخه عبرت وانه خیست یو موټی یوه خوله اودیوه دریځ خاوندان نه شو اودیوی واحدی قوماندی لاندی مودیوی گډی او یو مخیزی حملی په نتیجه کی دملحد اولاسپوڅی رژیم ځنکندن ورغوڅ نه کړ نو

> **که څه هم موږ دخپل منځي اختلافاتو ډیری ترخی تجربی په مخ کی درلودی خوبیا هم پدی بریالي نشوو چی له هغی څخه عبرت واخلو اودیوه واحد دریځ لپاره تصمیم ونیسو .**

پروپاګندونو ته لاسی چټکتیا اوپراختیا ورکړه اوپدی هاند او هڅو کی شول چی باید دافغانانو هغه فتحه اوسوبه چی دجهاد او مقاومت په ډگر یی په برخه شوی باید دسیاست په ډگر کی وبایلی .

اوداڅکه چی درژیم په مقابل کی داتلو افغانی مجاهدینو سره دنړیوالو طاغوتی ځواکونو اقتصادی مرستی او ملگرتیا وی دیوه ځانگړی مقصد اوهدف لپاره وی نه دمسلمانانو سره دهمدردی او خواخوږی پربنا اونه هم په افغانستان کی داسلامی دولت دمنځ ته راتلو لپاره !

دهمدغی وخت څخه راپدیخوا دافغانستان تش لاسی مسلمانان په ډاګه دیوی نااننډوله جگړی پر ځای چی دسرو روسانو لخوا تپل شوی وه دیوه سیاسی اوشیطانی جنگ سره هم لاس او گریوان شول .

کفری نړیوالو ځواکونو که له یوی خوا خپلو اقتصادی مرستو ته سقوط ورکړ نوله بله پلوه یی خپل کوښښونه گړندی کړل ترڅو خپل شوم هدف ته درسیدو لپاره دافغانی جهاد دبری په لار کی خنډونه راولاړ اوددغی کډل شوی جگړی دبایللو لاری چاری وسنجوی اوبرابری یی کړی .

نودخپلو همدغو ناځوانمردانه هلو ځلو په تعقیب یی لومړی دپروپاګندونوله لاری

څیری تحمیل کړی چی دغه ټولی قربانی اتلولی او زحمتونه په سیند لاهو شی اوپه افغانستان کی یو داسی لاسپوڅی حکومت رامنځ ته شی چی نه دغرب اونه هم دشرق په مقابل کی خوله بیرته کولای شی اونه هم په نړی کی دمسلمانانو په بد حالت دخفگان اودریدو چغه ووهلی شی لنډه داچی داستعمار چیانو په خوښه یو داسی گوډاکی حکومت وی چی دکفری ځواکونو دهو سره دهو ، اودنه سره دنه اواز غبرگ کړی .

دافغانانو دتوری او میړانی شرنگ که له یوی خوا دنړی ټولو ښکیلو شویو ملتونو ته دپاڅون او خلاصون درس ورکړ نو له بلی خوایی پخپل بی ساری او ځواکمن مقاومت سره دنړی لوی زبر ځواك هم ټوټه ټوټه کړ.

خوله بده مرغه له دومره سترو فتوحاتو او کارنامو سره بیا هم پخپل منځ کی سره یوه واحد مشرتابه ته ونه رسیدل اودبی ځایه اختلافاتو په لومه کی ونښتل چی متاسفانه همدغو ستونزو موږ په یوه حساسه او نازکه مرحله کی ورداخل کړو.

دروسانو له تیښتی څخه وروسته هیچا هم دافکر نه کاوه چی گوندی ملحد رژیم به نور لس ورځی هم دوام وکړی ځکه دایو څرگند حقیقت ؤ چی کوم ملت دتن

وتوورووسته دیوه واحد مشرتابه اودیوی واحدی قوماندی لاندی په ټول هیواد کی په یوه وخت خپلو گډو او یو مخیزو عملیاتو ته چټکتیا اوپراختیا ورکړی وای نو یقیناً چی نن به دملحد رژیم نښه نښانه هم نه وه او نه به کفری ځواکونو ته دومره فرصت په لاس ورغلی ؤ چی دجهاد دوستان هم پخپل دریځ او موقف کی بدلون راوستلو ته اړ اود خپل موقف دتائید په لیکو کی یی ودروی .

که څه هم موږ دخپل منځی اختلافاتو ډیری ترخی تجربی په مخ کی درلودی خوبیا هم موږ په دی بریالی

گوری وخت او حالات نه په یوه حال پاتی کیږی ، اونه هم دچا انتظار کوی خدای (ج) مکړه داسی ونه شی چی د۱۷ لکو تنو شهیدانو پاکی وینی موچی دسپیڅلی هدف او مرام لپاره یی تویی کړی دی بی ځایه ولاړی شی اوهم

مو دغه ستر تکلیفونه او زحمتونه چی دهجرت په چاپیریال کی موگاللی دی او لا گالو یی بی ثمری او عبس وگرځی بیا به دمچ په څیر لاسونه مروړو اووخت به راڅخه تیروی .

> **اوس هم که موږ پدی حساسه مرحله کي دتیرو تجربو او اوسنیو سترو بدلونونو څخه عبرت وانخیست او یو موټي نشوو ، نو وقت او حالات به په یوه حال پاتي نشي**

دنور په لور

زه ولی مسلمان شوم؟

ابراهیم کو آن « مالیزیایی »

ماتر شپیتو کلونو پوری دیوه پروتست عیسوی په څیر خپل ژوند تیر کړ، اوپه دی موده کی می نږدی دری کاله د« کوالالپس » په کلیسا کی دمذهبی مشر «پادری » په حیث هم تیر کری دی خو بالاخره داسلام غیږ ته راغلم .

زه نن دشکرانی له خوښی سره هغه لاملونه درته بنیم چی زما پر اسلام راوړلو پای ته رسیدلی .

زه د۱۹۰۷م کال دفبروری په دریمه نیټه زیږیدلی یم ، پلاراو مورمی بودایان وو ، دعمر په شپږ کلنی یی په یوه چینایی ښوونځی کی شامل کړم هلته می دکنفو سیوس مذهب یو بنیادی کتاب «چهار کتاب » او ځنی نور کتابونه هم ولوستل چی په نتیجه کی دهغی تر اغیزی لاندی دکنفوسیوس مذهب په یوه خدای(ج) گروهمن شوم .

زه نهه کلن وم چی د کولالمپور په « وکتورپرانستی تیوشن» کی می دانگریزی په زده کړه پیل کړ ، همدلته می دبایبل دعهد نامه قدیم او جدید ولوستل چی بالاخره می عیسوی مذهب غوره کړ داوخت زما عمر ۱٦یا ۱۷ کاله ؤ.

د۱۹٦۳ م کال په سپتمبر کی په داسی حال کی چی زه دکولالیپس په کلیسا کی پادری وم ماته یوه هندوستانی دوست « محمد » نومی دقران کریم دیوی انگلیسی ژباړی یو توك راکړ ، ماهغه ولوستله او د موضوعاتو له ښکلانه یی ډیر تر اغیزی لاندی راغلم که څه هم ددی اغیزی فشار دومره هم نه ؤ چی زه دی اسلام ومنم .

په «کولالیپس » کی می دعیسویت دتبلیغ په وخت کی دی ته پام شو چی دپروتستانو څومره ځانگی دی ، نوزه سخت خفه شوم ، ضمیر می تکان وخوړ ، چی دامی هم لیدل چی هره ځانگه له بلی سره په ټکر او مخالفت کی ده ، تاسو به پو هیږی چی دپروتستانت او کاتولیك فرقوتر منځ داختلاف څومره واټن دی اوددوی دمذهبی عقایدو څه حال دی دی حالت زه ډیر پریشانه کړم او له ویری می قران ته پنایوووړه ، کومو ایتونو چی ماته لاره وښودله هغه دا وو :

«ژباړه » : هغه پرتا« ای نبی ع» داکتاب نازل کړ چی حق یی راوړی او دهغو کتابو نو تصدیق کوی چی پخوا نازل شوی وو ، له دی نه مخکی هغه خدای (ج) دانسانانو دهدایت لپاره تورات او انجیل نازل کړی وو ..... ال عمران (۳)

«ای نبی (ص) ورته ووایه چی موږ الله منو او دهغه لارښوونی هم منو کومی چی پر موږ نازلی شوی ، هغه تعلیمات هم منو چی په ابراهیم(ع) ، اسماعیل(ع) ، اسحاق(ع) ، یعقوب(ع) او دیعقوب(ع) پر اولاد نازل شوی وو ، او پر هغو هدایاتو هم ایمان لرو چی موسی(ع) ، عیسی(ع) او نورو پیغمبرانو ته دهغه درب له لوری رااستول شوی وو ، موږ دهغوی په منځ کی توپیر نه کوو او موږ دالله (ج) فرمان ورونکی «مسلمان » یو ... ال عمران:۸٤

دقران ژوری او پر لپسی مطالعی زه حقیقت ته نور هم ور نږدی کړم او دعیسویت دعقایدو پوچوالی او غلطی ماته پرالاکیدله د مثال په توگه پر تثلیث عقیده بی له دی چی عیسویان یی په مفهوم پوه وی په پټو سترگو یی ټول قبلوی حال داچی په نړی کی یو داسی کتاب نشته چی ددی سپیڅلی عقیدی وضاحت وکړی ، ددی په مقابله کی اسلام دتوحید په سوتره او سپیڅلی عقیدی باورلری یعنی د الله تعالی سره په لویی او پاچاهی کی څوك شریك نشته .

۶. مخ کي

دنبوی لمر زرینی ...

ښه وځلید او روښانه شو ، هغه دعین التمر (دشطاطه اوسنی نخلستان) څخه دجنوب لوری ته حرکت وکړ ، دلاری په سر ددومة الجندل د(الجوف) دعسیایی عربو قبیلو سره لاس او ګریوان شو ، دغه قبیلو څو څو واری سر راپورته کړی وو . درسول کریم (ص) په ژوندانه کی هم دی سیمی ته دخالد (رض) تر قوماندی لاندی یو لښکر را استول شوی وو .

کله چی رسول اکرم (ص) دتبوك دنیولو اراده وکړه ، دغه ښار یی هم ونیولو ، څه موده وروسته ددی سیمی رئیس اکیدر بن عبدالملك مسلمان شو ، مګر کله چی په عربو کی دارتداد لړی پیل شوه ، نوموړی هم پدی لړی کی ورګډ شو ، کله چی خالد (رض) پر عراق باندی برید وکړ ، دجګړی په جریان کی ددی ښار خلکو سخت مزاحمت وکړ ، او اسلامی لښکر دی ته اړ شو چی دهغوی دغه مزاحمت مات کړی .

دفارس امپراطوری دغه ترلی نخلستان خپله سیمه بلله دهمدی امله یی دلته یوه پوځی قطعه ځای پر ځای کړی وه ، او په همدی دلیل دوی یو حل بیا په بغاوت لاس پوری کړ ، خالد (رض) په پوره قوت هغوی وټکول ، او له مینځه یی یوړل ، ددی قبیلی ریس (اکیدر) هم دجګړی په ترخ کی ووژل شو . پدی سیمه کی دنصرانیانو یوه لویه خانقاه هم وه چی څلویښت تنه عرب هلکان پکی په زده کړه بوخت وو ، اسلامی لښکر دغه هلکان هم دغنیمت له مال سره یو ځای مدینی منوری ته واستول ، ددوی په ډله کی یو نصیرنامی ځوان هم وو چی دافریقا اسلامی والی اود هسپانیافاتح جنرال موسی بن نصیر دهغه زوی دی .

په دومه کی دمسلمانان امر له تیاکلو وروسته خالد (رض) دشمال لویدیز لوری ته دبطن السر په لور وړاندی تګ وکړ ، دبزنیطنی لښکرو سره لاس اوګریوان اسلامی پوځ ددی سیمی څخه دڅلور و یا پنځوورځو په مسافه لری د« درعا » په دره کی واقع وو ، ولی خالد(رض) اسانه لار پریښوده او ده « دروز » یا حوارن دغرنی او اوږدی لاری څخه یی حرکت وکړ چی دتاریخ لیکونو په خیال ، هدف یی ددښمن اصلی مرکز «دمشق » ته دځان رسول او ددښمن کمزوری ورته په ګوته کول وو .

تراتلس ورځوروسته خالد (رض) دغه وچه ، بی اوبو او بی ګیاه دښته دډیروتکالیفو او مشکلاتو له زغملو وروسته طی کړه

نوربیا

لویه جرګه ابتکار سازمان ملل نه ، بلکه خواست رژیم مزدورنجیب است

پشاور ، میدیا :

استاد برهان الدین ربانی رهبر جمعیت اسلامی افغانستان طی کنفرانس مطبوعاتی که قبل از ظهر ۱۲ دلو در تالار کنفرانسهای دینز هوتل واقع پشاور دایر شده بود خبر نگاران پاسخ گفت :

بگزارش خبرنگار میدیا استاد ربانی ، بعد از انکه چند ایة از کلام الله مجید تلاوت شد ، در محضر خبرنگاران به ارتباط انکشافات اخیر درمساله افغانستان بیانیه ایراد نموده گفت : مقدمتا باید متذکر شویم ، هر اقدام وتلاشی که از طرف هر کشوری ویا موسسه جهانی به ارتباط حل مساله افغانستان صادقانه صورت بگیرد ، ما از ان صادقانه حمایت می کنیم :

رهبر جمعیت اسلامی مکررا تاکید کرد که از نقش ملل متحد در حل مساله کشور ما حمایت می کند اما افزود که این حمایت را مشروط بر چند اصل میداند ازین قرار که .

پیشنهاد سرمنشی ملل متحد در زمینه طوریکه قبلا بارها گفته شده مبهم است این نکته معلوم نیست افرادیکه در جرګه مورد نظر راه می یابند ، از طرف کی انتخاب میشوند ؟ اجندای ان چیست ومعیار تشخیص افراد سهیم در ان چه است

استاد ربانی گفت : شتراك نجیب یا دستیاروی که در قتل و کشتار مردم ، دست شان بخون اغشته است وهمچنان افرادی که از سوی مجاهدین رد شده اند نمیتوانند در ان سهم بگیرند

استاد ربانی افزود مایقین داریم همه این حقیقت رامیدانند که رژیم تلاش دارد به نحوی پایش رابدین جرګه بکشاند ، زیرا بدین وسیله است که میتواند خودش راحیثیت قانونی بدهد که هر گز قابل قبول نیست

استاد ربانی در مورد طرح اخیر سر منشی ملل متحد گفت :

این ابتکار ملل متحد نیست ، بلکه خواست رژیم است که بارها مطرح شده و ازسوی مجاهدین رد گردیده است و تاکید کرد که تشکیل حکومت ائتلافی وشرکت نجیب دردیالوګ بین الافغانی مشکل افغانستان را حل نمیکند ، بلکه این تلاشی تلقی میگردد ، برای اینکه به رژیم کابل مشروعیت داده شود .

استاد ربانی افزود: یقین داریم که ملل متحد مطابق پرنسیپ های دفاع از ملت های مظلوم تشکیل شده هر گز حاضر نخواهد شد یك کتله خون اشام را مشروعیت بدهد

استاد ربانی اظهار داشت سهم گیری رژیم در جرګه ها به هیچ شکل از اشکال ممکن نیست .

پروفیسور ربانی در ادامه سخنان خویش گفت ما خواهان پایان جنګ در کشور خود هستیم اما متذکر میشویم که سازمان ادم کشی باید در کشور ما منحل شود در غیر ان اتش بس کاری غیر عملی است .

ژه ولي مسلمان شوم ...

له هغه (ج) پرته بل دعبادت وړ موجود نشته ، په ذات او صفاتو کی هغه (ج) یوازی او ځانګړی دی بل سیال یی نشته او محمد رسول الله (ص) دهغه استازی او وروستی پیغمبر دی زماپه نزد خو داسلام او عیسویت تر منځ همدغه بنیادی بیلتون او توپیر دی .

زه دپرو فیسر خورشید احمد له دی خبری سره بشپړ اتفاق لرم چی دیوه اوږده مضمون په ترڅ کی یی لیکلی وو :

په دنیا کی ډیری نظریی او مذهبونه ظاهراً تر روښانه شعارونو لاندی په یوه معلوم لوری زور اچولی وی چی نری ته یی ستری بد مرغی او اختلافونه ورپه برخه کړی دی .

چا دنیاوی او مادی امور بلکل له پامه غورځولی او دنیایی ژوند یی یوځای غوندی تصویر جوړ کړی او چابیا مذهب ، معنویت او روحی امور تر مادی تمدن جار کړی دی ...

همدارنګه دفرانسوی ساینس دان داکتر رمی دوګبی او لدردسل له قول سره هم متفق یم چی وایی:

عیسویت یوه ستره غلطی داکړی چی ټول زوربی در هبانیت په اړخ اچولی او دهغی تبلیغ کوی حال داچی نني تمدن او ټولنی مادیت لوری غوری کړی .

زموږ او سنی ټولنی یوی ښکلی پیالی ته ورته دی چی له بهر نه ښکلی ښکاری خو په منځ کی یی بیا خواږه زهروی ، موږ دعلم او تکنالوژی ټول ځواك یوازی دجسمانی راحت او ارامی لاسته راوستلو لپاره په کار اچولی خو دروح غوښتنی او هیلی موله بی پروایی سره مخ کړی او هغی ته مو هیڅ پاملرنه نه ده کړی .

ددی دواړو غملړیو او پریشانوونکو نظریو او لارو پر خلاف بیا اسلام داعتدال او میانه روی لاره غوره کړی ده ، اسلام دمادیت او معنویت تر منځ توازن راوستلی ، او له دواړو څخه دیوه پر بل ترجیع او غوره والی نه ورکوی ، داسلام څخه مطلب دخدای (ج)تعالی عبادت ، دهغه (ج) داحکامو او قوانینو منل او پابندی، دهغه (ج) دنورو بندګانو او مخلوقاتو خیر غوښتنه او دټولنی اصلاح او هوسایی ده .

"۷" مخ کي

وضعیت سلاح ذروي ...

سوی ایالات متحده امریکا و اروپا نشانه ګیری شده بود برچینند وقسمتی از سلاح های ذروی مربوط به چهار جمهوری مذکور (روسیه ، روسیه سفید ، اوکراین و قزقستان) راتخریب و ازبین ببرند همچنان یلتسین رئیس جمهور روسیه اعلان نمود که روسها سلاح های اتومی تکتیکی و ستراتیژیکی راازبین خواهد برد علاوتا ایالات متحده امریکا سعی می ورزد تابه طور کامل بالای تولید و حفظ سلاح های ذروی در جمهوری های مذکور کنترول داشته باشد و دراینده نزدیك به صورت همه جانبه ظاهر خواهد شد که کشورهای بوجود امده از تجزیه شدن امپراطوری کمونستی روس سیاره های غرب خواهد شد وهمانطور که بعد از جنګ جهانی دوم المان غرب تحت نفوذ بیشتر ایالات متحده امریکا در امد والمان شرق به طور مستقیم مستعمره روسها ګردید ، جمهوری های بوجود امده از امپراطوری کمونستی روس تحت نفوذ همه جانبه غرب در راس ایالات متحده امریکا در خواهند امد .

اکنون ایالات متحده امریکا با همکاری روسیه و بعضی کشور های غربی میخواهد عملی ساختن پروګرام چترفضایی راهر چه بیشتر به اجرا در اورد وقبلا نیز در این ساحه تا حدودی به موفقیت نایل شده است که به طور

"صفحه ۷"

دکمونیزم دردناك ...

دیرومظلومو پرګنو ینی ځښلی دهغوی استعمال یی کاوه دهغوی دوسائلواو محنت څخه یی دځان لپاره ګټه اخیسته او هغوی یی ددغو خپلو ټولو ګټو او شتمنیو څخه له دی امله محروم ساتل چی ټول عمر ددوی غلامان واوسی که چیری دپخوانی شوروی په پوځ کی ۹۵ فیصده لوړ رتبه مامورین او ۶۰ فیصده عسکر له روسانو څخه و اویا دساننس پوهانو او اتوم پوهانو ۷۰ فیصده برخه له روسانو څخه وه نو په ډاګه ده چی دمنځنی اسیا جمهوریتونه به ددغه ناوړه سلوك له امله وروسته پاتی کیدل دتاریخ له مخی منځنی اسیا په هر وخت کی یو ځانګړی حیثیت لری چی هیڅوك هم تری سترګی نه شی

پټولی کوم پوهان او روشنفکران چی نن دراتلونکی وخت په باره کی فیصلی ورکوی غالباً دغو پوهانوته به داجوته نه وی چی دراتلونکی وخت په باب څه ویل او یا پیشګویی کول به په ټو او غایبو کی څه ویل او پیشګویی کول وی هیڅوك هم په دی باره کی دیقین سره په مطمئن زړه څخه نه شی ویلی چی سباته به څه وشی .

خو بیا هم موږ به صرف دومره وو وایو چی دلاهور ، پیښور ، کابل ، هرات ، تهران اصفهان ، تبریز ، استنبول ، سمرقند ، تاشقند ، بخارا او باکو یواځی دیو څو ښارونو نومونه نه دی بلکه داهغه قوی او پیاوړی لیکه ده چی پری دیوه ګډ او مشترك ، مذهب دین کلتور ، فرهنګ ، تاریخ او اقتصاد یو لوی کاروان سفر کاوه دغه کاروان دپیړیو پیړیو زوړ او پخوانی تاریخ لری چی دشوروی په څیر دظلم او جبر څخه جوړه امپراطوری یی دتل لپاره بندولی او دیوه بله جلا کولی نه شی .

البته دکمونیزم دناولی مفکوری ناوړه اغیزی او اثرات او دروس امریکا ګډ ی شومی هڅی ددغه ګډ او مشترك کاروان دسفر مزل یو څه ځنډولی شی خو دتل لپاره یی مخه نه شی بندولی

فاتح ولس خو مظلوم ولس !

زموږ دبرحق جهاد دحامی په وړاندی دکوم مادی ذهن خاوند وایی :

« روس چی چیرته پښه ایښی بیا تراوسه پوری له هغه ځایه نه دی وتلی » خودهغه په شوندو یو تبسم خور شو او ځواب ورکوی:

« دافغانانو تاریخ هم ددی گواه دی جی دهیچا په وړاندی نه دی ایل شوی او تراوسه پوری څوك نه دی توانیدلی چی په دی ولس خپله قبضه ټینگه کړی »

دوه کاله وړاندی دلوی په ۲٦ مه دروسی لښکرو وروستی ډله دامو له پله نه په پوری وتلو مومن افغان یو ځل بیا دتاریخ په پاڼو کی دیوه ستر فاتح نوم ثبت کړ.

او زموږ له مسلمان او مجاهد ملت سره ډیر ستر ویاړونه او افتخارونه وتړل شول مومن افغان دعصر دبرمیالو دسرلاری په حیث ومنلی شو ، خو دا دومره دتعجب او حیرانی خبره نه ده ځکه زموږ دمجاهد ولس تاریخ پیړی په پیړی دهمدغسی حماسو اوکارنامو په بدرگه را روان دی ، په همدی غرونو او رغونو کی دنړی ستر فاتح « سکندر » دلومړی ځل لپاره دشکست له نامه سره اشنا شوی دی ، په همدی گرنگونو او کڅونو کی دچنگیز دوحشی او خونړی لښکر په مخ کی دمقاومت دیوالونه دریدلی دی ، دتاریخ دغه بی رحمه او سر زوری واکدار دلومړی ځل لپاره ددی هیواد په زړه « نامتو » کی دځپل تبر او جپلوانو له ویر او ماتم سره مخامخ کیږی...

او همدا تیره نولسمه پیړی بیا هم په همدی خمکه دخدای (ج) دلښکر او طاغوت دپوځونو تر منځ ستر ټکر پیښیږی .

زموږ په هیواد کی لا داسی کسان شته چی دانگریزی یرغلگرو په وړاندی زموږ دمومن ملت دحماسو او اتلولیو خاطری یی په ذهن کی ژوندی دی.

دغیرتی افغان په زړه کی چی کله داسلام دیوه بله شویده نودقربانی ایثار او شجاعت جوهر یی نور هم ځلند او دغه غیرتی زلمیان داسلام دلاری ستر غازیان شول چی په وار وار یی خپلی توری دکفر او طاغوت پر خلاف له تیکی راوتلی او ځلیدلی دی.

دنړیوالو له اذهانو نه لادانگریزی امپراطوری ددړی وړی کیدو او ماتی خاطری نه وی ورکی چی یو ځل بیا دهندوکش اوسپین غر په سر درو کی دجهاد نغاری وژغورل شوی اودشلمی پیړی په وروستیو لسیزو کی دنړی بل شیطانی ځواك دافغان زمین داشغال او نیولو په منظور په دی خاوره پوځی تیری وکړ ، چی پر انجام او پای یی موږ ټول شاهدان یو .

خودتاسف اوخفگان ځای دادی چی دادی پوره دوه کاله تیریږی چی زموږ مومنو غازیانو دعصر ستر پوځی لښکر سر ټیټی له خپلی خاوری وشړلو مگر دهغوی مزدور او لاسپوځی رژیم لاپر ځای پاتی دی او نن زموږ مومن ملت ددی پر ځای چی دروسی پوځونو دماتی او روسی استکبار ددړی وړی کیدو ورځ لمانځلی وای متاسفانه دمزدور او کرغیړن رژیم دله منځه وړلو په تدبیرونو کی پاتی دی .

دتعجب خبره همدا ده هغه ملت چی پیړی په پیړی دیوه زبر ځواك درانسکورولو ویاړ لری ولی له داسی ستری ستونزی سره مخ شی چی پخپله دیوه معقول نظام پر جوړولو نه سره سلا کیږی ولی دغه فاتح ولس لا مظلوم دی؟

موږ دځپل ملت پر مومنو قائدینو یو ځل بیا غږ کوو چی دروسی استکبار دماتی او نړیدو ویاړ به مو هله بشپړ په برخه وی چی دملت له لمنی نه دکفر او کمونیزم تور داغ دتل لپاره ورك شی ، زموږ دمجاهد ولس او بری تر منځ یوازی یو گام فاصله ده ، یوازی یو گړندی او مومنانه اقدام ، یوازی یوه قربانی او ایثار له خپلو ځانی گټو نه تیریدل او دشهیدانو دوینو څاڅکو ته پوره درناوی پوهیږو چی زموږ دولس او بشپړ بری تر منځ به داستکبار جوړی کړی گردلی او لړی هم وی خو دځل یوازینی لاره یی دټولو په نظر یوازی همدا ده چی دجهاد مشران خپلی شخصی گټی دټول ملت تر گټو ځار کړی ، که تر ننه داسی شوی وای نن به مو دروس دماتی دوهمه کلیزه پرخپل ازاد هیواد کی لمانځله او که اوس هم داستکبار ددسیسو په وړاندی یو واحد دریځ غوره نه شی کیدای شی دروسی امپراطوری دماتی او شکست دیری کلیزی دهجرت په دیار کی ولمانځو اوداهم ممکنه ده چی خدای (ج) مه کړه له داسی ماتمونو سره مخ شو چی دروس ماته او دړی وړی کیدل دتل لپاره رانه هیر شی ، او بالاخره داهم لری نه ده چی خدای (ج) مه کړه دمومن افغان دفتحی قدمونه ، ددسیسو او توطیو په گردونو کی پټ او دتل لپاره ورك شی .

وما علینا الاالبلاغ

زه ولي مسلمان شوم ...

دعیسویت ، ننی تولنی او تمدن اواسلام مقایسوی او مقابلوی مطالعی زما دزړه په تل کی داسلام حقانیت باور او یقین رازرغون کړ ، ما دزړه له کومی اسلام ومانه او دیوه ریښتینی مسلمان په څیر می داسلام ټول قوانین پر ځان تطبیق کړل ، اسلام راوښودل چی له مسکینانو او بی وزلو سره مرسته وکړم او هیڅ ډول همدردی تری ونه سپوم ، زه ځان ډیر نیکمرغه گڼم چی ماته اسلام څه راکړی پری قانع اوخوښ یم ، او زه دخدای (ج) ډیر شکر گزاریم چی خپل فرض او برکت شپه او ورځ راباندی او روی ، موږ ته دا دفتنو نه په ډك دوران کی یوازی دخدای (ج) مرسته په کار ده ، موږ به له خدایه ، صبر ، زغم او ثبات غواړو چی نړی ته امن او ارامی راولو .

هو ! ددی خبریادول هم په کار دی چی په قران کی ډیری داسی خبری شته چی بایبل هم دهغه تصدیق کوی دمثال په توگه دالله اطاعت ورورگلوی او مساوات ، پس له مرگه ژوند او دمحشر په ورځ ایمان نو ځکه زه پو هیږم چی ریښتیا ما اوس په حضرت عیسی (ع) ایمان راوړی دی ، نه هغه وخت چی زه تش په نامه عیسوی وم داسلام کومو احکامو چی زه ددغه مبارك دین غیږی ته راوستم په خولص ډول په لاندی ډول ښیم :

۱- اسلام دعیسویت په مقابله کی څوچنده عقلی ، عملی ، ددرك وړ منطقی او ساده مذهب دی .

۲- اسلامی عبادات نیغ له خدای (ج) سره اړیکی ټینگوی .

۳-په اسلامی عباداتو کی دژوند دتکمیل احساس کیږی او دعیسویت په څیر نیمگړتیا نه پکی احساسیږی .

٤- په اسلام کی دخدای (ج) تصور ډیر لوړ او له وقارنه ډك دی .

٥- دقران داحکامو سره سم مسلمان ټول پخوانی کتابونه سپیڅلی او دخدای له لوری الهامی گڼی ، که څه هم اوس هغه تحریف شویدی قران له هر ډول تحریف او بدلون څخه ساتلی دی او دپخوانیو پیغمبرانو او کتابونه تائید او تصدیق کوی .

صلح ... ولی از کدام ...

گذارد ؟ واضح است که نه !

اگر از طریق مذاکرات با افراد رژیم مزدور وبی اساس کابل وهمچنان نمایندهگان شاه اسبق وخاین ، استقرار صلح و امنیت در کشور ممکن بود پس به این جنگ طولانی و خانمانسوز چه ضرورتی وجود داشت؟

یگانه راه صلح وثبات در کشور ما و ومنطقه انست تا رژیم مزدور کابل که عامل اصلی جنگ در کشور محسوب می شود از بین برود و حکومت اسلامی طبق خواسته اکثریت قاطع ملت مجاهد ، در کشور تشکیل یابد ، و غیر از ان اعاده صلح در افغانستان جنگ زده ناممکن به نظر می رسد

ظاهرشاه که در مدت سلطنت حویش به ان ملت سوغاتی جز خیانت ، فقر ، عقب ماندگی و... نداشته است ودرطول ١٤ سال جهاد ومبارزه ملت ما در عیش و تنعم غرب بسر برده است چگونه می تواند عامل صلح و ثبات در افغانستان باشد ؟

اکنون شرایط جامعه ما تغیر خورده ، و بگفته یك دانشمند «انقلاب جامعه ما را انقلابی ساخته ، واکنون نمی توان با متود ها ونظریات گذشته بر ان حکومت کرد» وبه این ترتیب می توان گفت که :

یگانه راه استقرار صلح و ثبات در جامعه جنگ زده ما همانا استقرار حکومت اسلامی مجاهدین است وطرح های راکه منابع مختلف پیشنهاد می کنند چیزی جز دسیسه های استکباری ، برای جلوگیری از پیروزی محتوم انقلاب اسلامی مان نمی توان شمرد

وضعیت سلاح ذروی درحالت ...

نمونه میتوان از تولید راکت های ، پاتریات ونوع پیشرفته تر دیگر از این راکت های ضد راکت های بلاستیکی وپیشرفت در فضا رانام برد .

در حال حاضر حجم سلاح های ذروی در جهان به اندازه زیاد است که میتواند زندگی روی زمین را چندین بار نابود بسازد وهریکی از پنج کشور مذکور (امریکا ، بریتانیا ، فرانسه، چین ، و روسیه) میتوانند توسط سلاح ذروی خویش زندگی رادریك ویا چند کشور مورد نظر از بین ببرند در صورتیکه کشورویا کشورهای زیر حمله ذروی، سلاح دفاعی یاسلاح ضد سلاح ذروی موثرتری رانداشته باشند .

با وجود آنکه با سقوط امپراطوری روسیه خطر جنگ ذروی در جهان کاهش یافته است اما بانهم در مقابل ایالات متحده امریکا وقدرت های اتومی دیگر ،چین یك دژ اتومی دیگری باقی مانده است که با ایالات متحده امریکاودر مجموع با غرب خود را اشتی ناپذیر جلوه می دهد وعملا نیز یك سلسله فعالیت های ضد امریکایی وضد غربی راز خود نشام میدهد روی این ملحوظ ایالات متحده امریکا تا هنوز از درد سریکه سلاح اتومی چین برایش بوجود اورده است نجات نیافته وبرای رفع این خطر چه خورد باشد چه بزرگ جز تکمیل پروگرام چتر فضایی چاره مناسب دیگر ندارد ایالات متحده امریکا نیز به این مطلب پی برده است وبرای بدست اوردن هدف مذکور باهمکاری روسیه ، انگلستان ، فرانسه ، جاپان ، وکشورهای دیگر غربی تلاش خود را دراین زمینه ادامه میدهد .

دراین اواخر سرو صداهای را از منابع مختلف بلند میشود که علاوه برپنج قدرت اتومی ذکر شده اسرائیل ، هندوستان ، پاکستان؛عراق ، ایران ، کوریایی شمالی ... نیز دارای بمب های اتومی میباشند ویا اینکه در استانه ساختن این نوع بمب ها قرار گرفته اند در حالیکه از جملهٔ کشورهای اخیر الذکر صرف هندوستان رسماً اعلان نموده که ازمایش اتومی یا ذروی رابه طور موفقیت امیز انجام داده ولی از داشتن بمب اتومی تا هنوز انکار نموده است.ایالات متحده امریکا وکشورهای دیگر دارنده سلاح اتومی تلاش می ورزند تا از شیوع سلاح ذروی در جهان جلوگیری نمایند ولی کشورهای یکه دارای استقلال کامل سیاسی هستند وفاقد سلاح هستوی میباشند ویا اینکه از داشتن سلاح های اتومی انکار می نمایند بافعالیت های جلوگیری از پخش سلاح اتومی ایالا ت متحده امریکا و حامیان اش به مخالفت برخاسته اند اینها ادعا می نمایند که در صورتیکه عده از کشورها دارای سلاح های هستوی میباشند وهیچ نوع تضمین مطمیٔن جهت استعمال ان بالای کشور های دیگر ندارند تلاش برای جلو گیری ازپخش وشیوع سلاح ذروی نوعی از مداخله در امور داخلی کشورها محسوب می گردد .

این یك حقیقت انکار ناپذیر است که نه تنها موجودیت سلاح اتومی به هر شکل ودر هر محل که باشد خطر جدی رابرای زندگی بشریت وتحت فشار اوردن کشورهای ازاد و فاقد سلاح ذروی را دارا میباشد بلکه هر گاه از احتیاط وجدیت بیشتر کار گرفته نشود استفاده از انرژی اتومی به شکل مسالمت امیز نیز دارای خطرات جدی وجبران ناپذیر برای نوع بشر میباشد که نمونه های خورد وبزرگ آن در روس (چرنوبیل)ایالات متحده امریکا ودیگر کشورهای که از انرژی هستوی استفاده می کنند میباشند

فلهذا تلاش برای جلو گیری از انتشار سلاح ذروی کافی نیست بلکه مهمتر وعاجل تر از همه قطع تولیدونابودی کامل وهمه جانبه سلاح اتومی در سراسر گیتی میباشد وهرگاه از این نوع انرژی در تولیدات غیر نظامی استفاده به عمل می اید باید بطور همه جانبه مصئون وامکانات بروز خطرات ان رفع شده باشد .

دهیواد په تودومورچلو کی

کابل:

په پیښور کی دمجاهدینو یو خبر ځای دکابل ولایت څخه میډیا ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دشکردری ولسوالی دکوکچی په سیمه کی درژیم په یو اکمالاتی قطار چی دکابل ښار نه دشمال کمربند مضبوط کولو لپاره شکر دری ته روان وه دیو برید په ترڅ دوه عرادی نقلیه وسایل ویجاړ کړی دی.

رپوټ زیاتوی چی په دغه برید دنوموړی قطار دقواو څخه ۲ منصبداران او ۷ تنه عسکر وژل شوی مجاهدینو ٥ میله کلاشینکوفونه او ۲ تی تی تمانچی دیو مقدار مهماتو سره په ولجه نیولی دی.

کندهار :

په کویټه کی دمیډیا نمایندگی وایی چی مجاهدینو دقندهار ولایت ددشت صوفی په سیمه کی درژیم په امنیتی پوستو باندی په یوه برید کی دیوی پوستی په نیولو سره درژیم ٦ تنه پلویان ژوندی نیولی دی.

رپوټ همداراز دغور ولایت څخه وایی چی مجاهدینو دغور ولایت دشهرك ولسوالی په امنیتی پوستو باندی په یو برید کی درژیم ٤ تنو پلویانو په نیول کیدو سره یو تن وژلی ٦ نور یی ټپیان کړی دی.

خبر زیاتوی چی ۳ تنه مجاهدین چی څه موده دمخه درژیم دقواو له خوا نیول شوی و دمجاهدینو ددغه برید له بهیرنه په استفادی سره په تیښته بریالی او بیرته دمجاهدینو سره یو ځای شوی دی.

جوزجان :

په پیښور کی دجوزجان ولایت نمایندگی ددغه ولایت نه میډیا ته رپوټ ورکړ چی مجاهدینو دجوزجان ولایت دسرپل ولسوالی دقلعه سوخته ددره شاه ابراهیم دسیمی پر پوستو یو لړ بریالی عملیات تر سره کړل چی دهغی په نتیجه کی درژیم قواو ۸ تنه عسکر او ملیشه مړه ، دری تنه ټپیان او ۱۲ تنه نور یی ژوندی نیولی دی.

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی پیښه کی درژیم له پلویانو نه یوه گرینوف ماشیندار، دوه پیکا ۱۲ میله کلاشینکوفونه ، یوه اندازه مهمات او لوژستیکی مواد ۲۰ دبزکشی اسونه په غنیمت نیولی دی.

سمنگان :

دسمنگانو له ولایت نه قوماندان حمید الله صد باشی رپوټ ورکړی چی دعبدالرحمن په مشری دکابل رژیم یو شمیر دخاد غړی او عسکر ددلوی په ۱۲مه نیټه دسمنگانو ولایت دخلم په ولسوالی کی ددوه میله راکټ ، دوه پیکاماشیندارو ، اوه میله کلاشینکوفونو ، دوه میله مکروف تمانچو اویوه اندازه مهماتو سره دمجاهدینو دعمومی عفوی څخه په استفادی سره ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړی دی.

په نیول شوی کشمیر کی دمجاهدینو او یرغلگرو پوځونو ترمنځ سختی نښتی

مظفراباد ، ددلوی ۲۲مه :

دنیول شوی کشمیر څخه ترلاسه شوی رپوټونه وایی چی دمجاهدینو او هندی پوځونو تر منځ سختی نښتی روانی دی اوگڼ شمیر هندی یرغلگر پوځیان پدی نښتو کی له منځه تللی.

پدی نښتو کمی ٤ تنه کشمیری مجاهدین هم ټپیان شوی دی.

بل لوری ته ویل شوی چی په همدی ورځ په ټول سرینگر کی عمومی اعتصاب جریان درلود ، او ټول دفاتر او کاروباری مرکزونه تړلی وو.

رپوټ وایی ددی وژل شویو هندی عسکرو څخه ۲۷ تنه په سرینگر کی ۱۰ تنه په دیوترال کی او گڼ شمیر نورپه مختلفو نورو سیمو کی وژل شوی دی.

که زمونږ سره مرسته ونکړی نو کمونستان به یوځل بیا راپورته شی

پاریس ، ددلوی ۱۹ مه

دروسی فدارسیون جمهور رئیس بوریس یلتسن یو ځل بیا خبرداری ورکړی چی که دوی ته دنړیوالو مرستو رسیدل وځنډیږی نو خطر ناك نتایج به تری برسیره شی.

دبی ،بی سی راډیو درپوټ له مخی ویل شوی چی یلتسن دفرانسی څخه دخپلی لیدنی کتنی پر دوهمه ورځ ، ددی ویره څرگنده کړی چی که دده هیوادته په کافی اندازه مرسته ونه رسیږی ، نو دده داصلاحاتو پروگرام به له خطر سره مخامخ شی . نوموړی زیاته کړی چی دنړیوالو مرستو دځنډیدو یانه رسیدو په وجه پدی هیواد کی د فاشیستو او کمونیستو عناصرو دبیا راپورته کیدو ویره شته . چی نه دروسی ولس پری خوښه ده او نه نړیوال هغه خوښوی.

یلتسن زیاته کړی چی راتلونکی دری میاشتی دده دپروگرامونو لپاره ډیر مهمی وی . بل لوری ته ویل کیږی چی دفرانسی جمهور رئیس فرانسومیتران یلتسن ته ډاډ ورکړی چی فرانسه به روسی فدراسیون ته په هر ډول پوځی او اقتصادی مرستی تیاروی.

ظاهرشاه رابیگانگان بیش از ظرفیتش بزرگ ساخته اند

محترم مولوی نصر الله منصور رهبرحرکت انقلاب اسلامی افغانستان باخبرنگار میدیا راجع به تحولات اخیر قضیه ما مصاحبه انجام داده که نکات مهم ان اینست

مولوی منصور در جواب سوال خبرنگار میدیا در رابطه اعلان اخیر وزیر خارجه پاکستان مبنی برحمایت قاطع دولت مطبوعش از حل سیاسی قضیه کشور ما بر اساس طرح پنج فقره یی سازمان ملل متحد گفت : طرح مذکور کلا مورد تائید مجاهدین نبوده بلکه حاوی موادی است که باید مورد بحث قرار گیرد.

مولوی نصر الله منصور افزود ، بشمول پاکستان ، ایران عربستان سعودی هیچکس وهیچ کشوری نمیتواند بدون مشوره مجاهدین از انها نمایندگی کند ولی ما از همکاریهای شان متشکریم.

از مولوی صاحب منصور پرسیده شد که اعلان مذکور با عکس العمل های گوناگون رهبران تنظیم های جهادی روبر شده نظر شما در زمینه چگونه است گفت: درچنین حالات لازم است اختلافات راکنار گذشته باموقف واحد از وقوع خطرات که ثمره جهاد را تهدید می کند جلو گیری گردد.

مولوی منصور پیرامون لویه جرگه پیشنهادی ملل متحد ، اظهار داشت لویه جرگه نباید تحمیلی باشد و مزید بر ان اگر بنا باشد چنین جرگه در پاکستان ، ایران ویا هر کشور دیگری دایر شود باید از جانب مجاهدین تدویر گردد.

مولوی منصور گفت : دادن حق شمولیت در لویه جرگه به نجیب و حزب وی جفا به جهاد وستم بر ملت مجاهد افغانستان است.

در ارتباط به سهم ظاهر شاه در لویه جرگه مورد نظر ، مولوی نصر الله منصور گفت : ظاهر شاه سابق پس از کودتای سرطان ۱۳۵۲ تا اکنون از افغانستان دور بوده وگذشته از ان طی ۱۳ سال جهاد نه تنها کوچکترین سهمیه درین پروسه ادا نکرده است بلکه به ان خیانت روا داشته و از قربانی در ین راه فروگذاشت کرده است.

مولوی منصور گفت : ظاهر شاه را تبلیغات بیگانگان بش از ظرفیتش بزرگ ساخته اند مولوی منصور اشتراك وی در لویه جرگه رابه هر نحوی که باشد مردود دانست وی در جواب این سوال که قطع کمك ها به مهاجرین و مجاهدین شاید مشکلات زیادی ایجاد کند اظهار داشت باید مشکل راتحمل کنیم و اظهار امید واری کرد که کشور های اسلامی دست به قطع کمك های شان نزنند مولوی صاحب منصور گفت : پاکستان نیز باید خاطر نشان ساخت که منافع ملی این کشور در اسیای میانه زمانی تامین میشود که حکومت مجاهدین در افغانستان قایم باشد.

هند به هم دشوروی او یوگوسلاویا په څیر ټوټی ټوټی شی

نوی ډیلی

دالمان غږ راډیو په تیرو ورځوکی دهند دراتلونکی په هکله یو تحقیقاتی رپوټ خپورکړی چی په هغی کی ویل شوی دی چی دشوروی او یوگوسلاویا تر ټوټه کیدو وروسته به دهند راتلونکی څه ډول وی ؟

پداسی حال کی په هند کی هم دشوروی اویوگوسلاویا په څیریولړنژادی او مذهبی اختلافات شته.

رپوټ وایی هند دنفوسو له لحاظه دنړی تر ټولو ستر هیواد دی ولی ددی هیواد په زیاتو برخو کی لکه پنجاب ، اسام او کشمیر دازادی غوښتنی غورځنگونه راپاریدلی . او دهند مرکزی حکومت ددی تحریکونو په ځپلو کی تقریباً له ناکامی سره مخامخ دی.

دغه رپوټ زیاتوی دهند ٤٠ فیصده خلك ډیربی وزلی او غربت وهلی دی . او تر نیمایی زیات اوسیدونکی یی بی سواده دی او دیوه دیپلومات له قوله ویل شوی چی ډیر خلك پدی هم نه پوهیږی چی څوك پر هغوی حکومت کوی !

دشوروی اتحاد دبیرته راژوندی کولو غوښتنه

مسکو ، ددلوی ۲۲مه :

دمسکو راډیو درپوټ مطابق دبوریس یلتسین ۵۰ زرو تنو مخالفینو اودپخوانی شوروی اتحاد پلویانو پداسی حال کی چی دپخوانی شوروی بیرغ اودلینن عکسونه یی په لاس کی وو دروسی فدراسیون داوسنیو اصلاحاتو پرخلاف یی یوه ستره مظاهره وکړه.

دامریکا غږ.راډیو رپوټ ورکړی چی دی مظاهره کوونکوځو « یلتسین غدار دی »او« یلتسین باید استعفی وکړی » ناری یی وهلی دروسی فدراسیون دپارلمان دودانی لوری ته مخ په وړاندی لاړل.

رپوټ وایی دی مظاهره کوونکو چی له یلتسین څخه یی داستعفی اودپخوانی شوروی اتحاد دبیرته ژوندی کولو غوښتنه یی کوله ، څه شعارونه هم له ځان سره وړل چی په یوه یی لیکل شوی وو" یلتسین له شوروی اتحاد څخه ځان وژغوره ، اوس به ولس له ده څخه ځان ژغوری »

په یوه بل خبرکی ویل شوی چی دیلتسین ۳۵ زرو تنو پلویانو هم په همدی ورځ یوه مظاهره کړی ده.

په الجزایر کی اضطراری حالت اعلان شو

الجزیره ، ددلوی ۲۳ مه :

دالجزایر واکمنو دوروستیو خونړیو مظاهرو او کړکیچونو څخه وروسته تیره ورځ ددی هیواد داسلامی ژغورنی دجبهی په فعالیتونو باندی بندیز ولگولو.

رپوټونه وایی دالجزایر دواکمنی پوځی شورا مشر محمد بوضیاف دیوه کال لپاره پدی هیواد کی داضطراری حالاتو دنظام دنفاذ اعلان کړی او ویلی یی دی چی دضرورت په وخت کی پدی موده کی دزیاتوالی امکان هم شته همدارنگه واکمنو په ټولو ښارونو کی دښاروالی دفاتر هم رنگ کړی څکه ساروالی داسلامی ژغورنی دجبهی په لاس کی وی.

په هغه فرمان کی چی دبوضیاف له خوا لاسلیك شوی ویل شوی دی چی دیوه کال لپاره په هرډول جلسو او مظاهرو باندی بندیز لگیدلی ، اودهرډول سیاسی غونډو مخنیوی به کیږی.

دیادونی وړ ده چی دالجزایر واکمنو یوه ورځ مخکی په الجزیره کی داسلامی ژغورنی دجبهی مرکزی دفتر تړلی وو او ددی سازمان گڼ شمیر مشران او دجوماتونو امامان یی بندیان کړی وو ، نړیوال مبصرین وایی چی داسلامی ژغورنی جبهی باندی تر بندیز وروسته کیدای شی دالجزایر واکمن دانتخاباتو دبشپړتیا هڅه وکړی ترڅو په اصطلاح دلویدیزی نړی له هغه فشار څخه ځان وژغوری چی دانتخاباتو دځنډولو له امله پدوی باندی راغلی وو.

بل لوری ته داسلامی ژغورنی جبهی دالجزایر له خلکو څخه غوښتنه کړی چی دحکومت ددی اقدام پر ضد باید په پاڅون لاس پوری کړی.

په خبر کی ویل شوی چی دتیری اونی دکړکیچونو په ترڅ کی څه دپاسه ۵۰ کسان وژل شوی اویو شمیر نور ټپیان شوی دی.

دهیئت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»